مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ليکوال: جيفري رابرټس
ترجمه: عبدالباري جهاني

۲۰۲۰/۰۹/۱۱

امريکايی ليکوال جيفري رابرټس، په ۲۰۰۳ کال کې، په افغانستان کې د جګړې ريښې، په نوم، يو مغتنم او مستند، کتاب ليکلی دی. د دې کتاب دوولسم، ديارلسم او څوارلسم فصلونه، په زړه پورې معلومات لري. او ما د ترجمې لپاره انتخاب کړي دي. خدای دې وکړي چې لوستونکو ته ګټور ثابت سي. په دې کتاب کې، جيفري رابرټس ښودلې ده چې افغانستان له څومره پخوا زمانو څخه د امريکا سره د ډيپلوماټيکو او اقتصادي اړيکو د ټينګولو کوښښونه کړي دي او امريکا او برتانيې په څومره غرور دا پيشنهادونه رد کړي، د پښتو نستان په برخه کې يې څومره غيرعادلانه دريځ نيولی او لا يې په مطبوعاتو او خپل کانګريس کې افغانستان په سپکو نومونو هم ياد کړی دی. بالاخره د امريکايانو دغه بې پروايي وه چې د افغانستان واکمنان يې مجبور کړل چې له خپل شمالي ګاونډي شوروي اتحاد څخه پوځي او اقتصادي مرستې تر لاسه کړي. او په نتيجه کې هغه څه پيښ سول چې ټولو وليدل.
The Origins of Conflict in Afghanistan: Jeffery J. Roberts.

# د ټرومن حکومت او افغانستان:

## د هيلمند وادي پروژه، پښتونستان او پوځي مرستي

### دوولسم فصل

### (دويمه برخه)

له جنګ څخه، په سمدستي، وروسته مرحله کې، افغانستان له متحده ايالاتو څخه وغوښتل چې د هغه هيواد سره انکشافي او پوځي مرستي وکړي. افغانانو ليدل چې امريکا يو لوی اقتصادي او پوځي طاقت دی او له بلې خوا په جنوب لوېديځه آسيا کې چنداني د استعماري واکدارۍ غوښتني هم نه لري نو د هغه هيواد مرستي يې تر بل هر هيواد مناسبي او د شوروي د احتمالي مداخلو په مقابل کې يو خنډ او مورچل باله. دغه راز يوه احساس او نظر داسي فرصت برابراوه چې افغانستان، د خپلو اقتصادي او پوځي مرستو لپاره، په دايمي توګه، له لوېديځو هيوادونو سره وتړل سي. د افغانستان مشرانو د ۱۹۴۰ د لسيزې په وروستيو کلونو او د ۱۹۵۰ په لسيزه کې هر وخت دا آرزو درلوده چې له متحده ايالاتو سره د اقتصادي او پوځي همکارۍ نيژدې اړيکي ولري. خو د امريکا پاليسيو، په بې احتياطۍ سره، افغانستان دې ته مجبور کړ چې د شوروي لمني ته لاس واچوي.
افغانستان د عمومي جنګ تر پايه پوري، د شلو ميليونو ډالرو په اندازه، د خارجي اسعارو يوه ذخيره جمع کړي وه، او دا پيسي يې زياتره د قره قل پوستکو او وړيو د خرڅلاو له لاري تر لاسه کړي وې. د افغانستان حکومت، په ۱۹۴۶ کال کې، څه باندي اووه لس ميليونه ډالره، د هيلمند او ارغنداب د رود په شاوخوا کې د کرني پروژو انکشافي پلان ته تخصيص کړي. دوی د امريکا د ايډاهو د ايالت د بويس له ښار څخه موريسن- کنوډسن Morrison Knudson شرکت ته بلنه ورکړه چې دوه د اوبو بندونه او يو شمېر کانالونه ورته جوړ کړي او دغه راز د ماشينونو د ترميمولو او ساتني لپاره افغانان ورته وروزي. د هيلمند پروژې داسي انکشاف وکړ چې داسي فکر کېدی چې هغه وچه او بې حاصله سيمه به د غنمو او غلو دانو په داسي ګودام تبديله کړي لکه د مغولو د فتوحاتو څخه مخکي چې وه.
د دې پروژې په پلان کې تر اندازې زيات شيان په نظر کې نيول سوي وه. د انجنييرانو له ستونزي سره نور خندونه هم ملګري وه چې هر يو په خپل وار يو لوی مشکل وو. د عصري کرني د تخنيک لپاره د بېسوادو دهقانانو روزل پخپله يوه لويه ستونزه وه. د هيلمند پروژه په داسي سيمه کي عملي کېدله چې تر دغه وخته پوري يې د کرني د پروژو هيڅ سابقه نه درلوده او د حکومتي اداري له مرکز څخه يې په سل هاوو ميله فاصله درلوده، چې دا پخپله يو اداري


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېرلو مخکې په ځير و لولئ

مشکل وو. نه د افغنستان حکومت او نه امریکايي پروژې دې اداري ستونزي ته، چې له لومړي سره له پروژې سره ملګرې وه، سمه توجه وکړه.
په لومړیو څو کلونو کې اولنۍ پانګه ختمه سوه او تقریبا ټول ساختماني کارونه ناتمامه پاته وه. پاکستان له افغانستان څخه د پښتو نستان د مسلې د لمسونو په بدل کې افغانستان ته د ماشینونو او د پروژې د اکمالاتو د رسېدلو په لاره کې بېځایه اداري خنډونه ایجادول. پاکستان، افغانستان ته د موادو د انتقالولو پر سر ډېر درانه مالیات وضع کړل او دومره زیات ګمرکي محصول یې ور څخه اخیست چې د پروژې پیسې یې ختمې کړې. د افغانستان د خارجي اسعارو اضافي زخیره، د موریسن کنوډسن د شرکت او د پاکستاني اداري ترمنځ په ستونزو کې ختمه سوه.
په ۱۹۴۹ کال کې د افغانستان د اقتصاد وزیر عبدالمجید زابلی واشنګټن ته ولاړ او له هغه هیواد څخه یې، د ځینو مشخصو انکشافي پروژو لپاره، د ۱۱۸ میلیونو ډالرو مرستي غوښتنه وکړه. د وارداتو او صادراتو بانک، تر ډېرو زیاتو اداري او میرزایي مشکلاتو وروسته، ۲۱ میلیونه ډالره پور منظور کړ او هغه هم په دې شرط چې دا پیسي به یوازې د هیلمند په پروژه کې لګول کیږي. زابلي حکومت ته توصیه وکړه چې دا پور رد کړي. خو د حکومت مشرانو، سره له هغه چې په دې پوهېدل چې د دې پور د ګټې اندازه ډېره لوړه ده، غوښتل چې له متحده ایالاتو سره نیژدې اړیکي ولري او د پور په ردولو کې یې ګټه نه لیده.
د هیلمند پروژه بیا هم له ډېرو زیاتو ستونزو سره مخامخ وه. د نویو ځمکو آبادول او پر حاصل راوستل، د تجربه لرونکو کروندګرو او عصري ټکنالوجی لپاره هم ګران کار دی او افغانستان په دواړو کې یو هم نه درلود. په افغانستان کې یوې د غوایانو په وسیله، چې ډېر کرار کرار به یې حرکت کاوه، کېدله او دا د کرنې بیخي ابتدایی شکل وو. کروند ګرو تخمونه په لاس شیندل. دوی د کرنې په وخت کې، په موثره طریقه، نوبت نه رعایت کاوه او د هرزه وښو د له منځه وړلو چل یې زده نه وو او واښه به یې یا په لاسونو او یا په لورونو له منځه وړل. دا تقریبا هغه ډول لورونه وه چې، دوولس زره کاله پخوا، د صیقل سوي ډبرې د عصر انسانانو په کرنه کې کار ورڅخه اخیست.
تخنیکي ستونزې لا، په ډېرو ځایونو کې، د اجتماعي ستونزو په څېر جدي نه وې. د افغانستان حکومت په نظر کې درلودل چې د هیلمند په پروژه کې کوچیان ځای پر ځای کړي او په دې توګه د دغو قبایلو او کروندګرو خلکو ترمنځ اختلافات حل کړي. دا پلان ځکه بریالی نه سو چې پخپله کوچیانو له ځمکو سره چنداني علاقه ونه ښودله. له نوي ټکنالوجی او له مالداری څخه کروند ګری ته د ژوند له تغییرولو سره چنداني چا علاقه ونه نیوله. اکثر بشر پېژندونکي او سوشیولوجیستان په دې عقیده دي چې مالدار په خپل ژوند کې خوشاله وي او نه غواړي چې کروند ګری ته مخه کړي. دا خبره په نېستمن افغانستان کې ډېره پر ځای وه ځکه چې په هغه هیواد کې مالدار تر ځمکه والو شته من وه.
کله چې پر ځمکو باندي د کوچیانو د آبادولو د پروژې ناکامي څرګنده سوه نو د افغانستان مقاماتو د نورو قومونو راوستلو ته مخه کړه. د آمو د سیند له غاړې څخه یې ترکي ژبي او فارسي ژبي خلک را وستل؛ خو هغه کسان چې د هیلمند پر ځمکو آباد وه هغوی له کوچیانو او دغو خلکو سره یو شان دښمني ښودله. بشپړ کلي، چې زیاتره پر قبایلي اساس جوړ سوي وه، د دې سیمه ایزې پروژې سره مخالف سول. خال خال د تشدد پیښي هم منځته راغلي او عمومي نظم ته یې خطر پیښ کړ.
تر بشري ستونزو لا جیولوجیکي او جغرافیایی ستونزې زیاتي وې. هغه سیمه چې باید کار وربانديي سوی وای د نفوسو او هیواد له اداري څخه ډېره لیرې پرته وه. ټرانسپورټ بې اندازې کرار وو او هلته پوخ سرک بیخي موجود نه وو چې یا د اړتیا وړ مواد وربانديي راوړل سوي او یا تولیدات وربانديي صادر سوي وای. په بندونو کې تر هغې اندازې زیاتي اوبه ولاړي وې چې کار ورڅخه اخیستل کېدی. د برېښنا لپاره تقریباً هیڅ محلي بازار موجود نه وو. په کانالونو کې ډېر ژر واښه شنه سول او بندونو ته د تلونکو اوبو مخه یې بندوله. لومړی خو افغاني میخانیکان ډېر لږ وو او چې موجود وه له هغوی سره د کار کولو لپاره موثر او عصري سامانونه نه وه. په ټوله پروژه کې دوه لاری موټرونه او دوه جیپ موټرونه وه او میخانیکانو، چې له لاسي سامانونو څخه یې کار اخیست، د کانالونو د پاکولو وس نه درلود.
تر ټولو لوی تاکتیکي مشکل د پروژې د پیل کېدلو تر وخته پوري کشف نه سو او هغه دا چې د پروژې د ځمکې څه باندي دریمي برخي ډېره زیاته مالګه او القلي مواد درلودل چې د اکثرو نباتاتو د ودې کولو مخه نیسې. که څه هم چې دغه راز خاوره اصلاح کېدلای سي خو ډېر زیات لګښت او وخت غواړي. هغه ساحه ډېره محدوده وه چې له ځمکې څخه پرېولل سوې مالګه او القلي مواد ورغلي او جذب کړي یې وای او دونه لګښت وربانديي کېدی چې د افغانستان حکومت یې تاب نه درلود او د دغو ځمکو اصلاح کول یې غیرممکن کول.
د امریکا حکومتي ادارو، د نن ورځې په څېر، له خارجي موسسو سره د مرستو کولو تجربه نه درلوده؛ او د دوی اداري مشکلاتو هم د هیلمند د پروژې ستونزې زیاتولې. د موریسن کنوډسن د کمپنی او د صاداراتو او وارداتو د بانک او د افغانستان د حکومت ترمنځ غلط فهمیو هم یو څه کار خراب کړی وو. د مثال په ډول دغه پور په ۱۹۴۹ کال کې منظور سوی وو او تر ۱۹۵۱ کال پوري مربوطو ادارو ته ونه سپارل سو. بانک، په لومړي سر کې، موافقه کړې وه، چې د پیسو د رسېدلو د ځنډ په صورت کې به شرکت ته، د کار د روانولو لپاره، پیسې ورکوي، هغه پیسې را ونه رسېدلې او د موریسن کنوډسن کمپنی هم خپل کارونه وځنډول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

په مشخصو هیوادونو کي، له وړو پروژو سره د متحده ایالاتو له خوا مرستو د امریکا له خوا د هغو هیوادونو د پېژندلو په مسله کي مرسته کوله او ضمنا یې افغانانو ته د پلان جوړولو، تنظیمولو او اداره کولو په برخه کي تجربه ور حاصلوله. خو د هیلمند د پروژې په مسله کي ټولي خبري پر مالي برخي را ګرځېدلې او د افغانستان لپاره یې سیاسي ګټه نه درلوده. د صادراتو او وارداتو بانک ادعا کوله چې په افغانستان کي یې د خوراکي موادو د تولید په پراخولو کي مرسته کړې ده خو ځینو منابعو ویل چې موریسن کنوډسن کمپنۍ د خپلو ګټو ترلاسه کولو لپاره له سیاسي نفوذ څخه ګټه اخیستې ده. د دې پرځای چې د هیلمند پروژه د دواړو هیوادونو ترمنځ د اړیکو په بهترولو کي مرسته وکړي؛ د افغانستان ډېرو مهمو کسانو ته یې دا ذهنیت ورکړ چې د متحده ایالاتو حکومت یوازې خپلو شرکتونو ته د ګټو رسولو په غم کي دی.

موریسن کنوډسن کمپنۍ هم د صادراتو او وارداتو د بانک په څېر د سیاسي اړیکو سره علاقه نه درلوده او یوازې د خپلو ګټو په لټه کي وه. په داسي حال کي چې د دغه شرکت ځینو تخنیکرانو به کله کله ویل چې د افغانستان حکومت د دغي پروژې د پر مخ بېولو او بشپړولو لپاره د کارکولو استعداد نه لري خو هیڅ وخت یې د کومي ساختماني پروژې په برخه کي چې دوی ته یې وظیفه ورکړه سوې وه سمه مشوره ورنه کړه او په نتیجه کي به په داسي یوه ځای کي، بېځایه، پیسې ولګېدلې چې له تخنیکي پلوه به لازمي نه وې. شرکت دغه راز خپل کارکوونکي له افغاني عنعناتو سره بلد نه کړل؛ او له هغو افغانانو سره یې ارتباط ټینګ نه کړ چې د دغي پروژې په عملي کولو کي یې مرسته کولای سوای. بېطرف څارونکي، د کمپنۍ تخنیکران او مدیران د خپل کار چاپېریال ته د پروژې د نورو ستونزو په څېر حیران او وارخطا وه. ډېرو امریکایي مامورینو به د خپلو لوړو تنخواوو او د ژوند د عالي شرایطو لاپې کولې او ځینو خو به کله کله د شرابو په نشه کي ښځو ته لاس واچاوه او د افغانانو حساسیتونه به یې را وپارول. نورو به د کمپنۍ د لوړو دېوالونو شاته ( په کوچنۍ امریکا کي ) کي شپې سباکولې. داسي امریکایي چنداني نه وو چې په افغانستان کي دونه زیات پاته سوی وای چې له امریکا سره د افغانستان د دایمي اړیکو په ټینګولو کي یې مرسته کړې وای.

د هیلمند پروژې د ۱۹۷۰ د لسیزې په کلونو کي دوام وکړ. ډېرې زیاتي پیسې پکښې ولګېدلې خو داسي نتیجې یې ورنه کړې چې څوک دې زړه په ښه کړي. دواړو خواوو د پروژې د پاته کېدلو او ناکامېدلو پړه پر یوه بل اچوله. دواړوخواوو دې پروژې ته نوري پیسې واستولې؛ په داسي حال کي چې په افغانستان کي نوري داسي برخي وې چې د پیسو لګېدلو ته یې اړتیا درلوده. داچې د افغانستان حکومت له شوروي اتحاد څخه د لویو پورونو اخیستلو ته مخه کړه، یو علت یې د هیلمند د پروژې ناکامي وه.

د ټرومن حکومت د پښتونستان د مسلې په حلولو کي هم، په دغه توګه، ناکام سو. افغانستان، په رسمي توګه د پاکستان د نوي هیواد د جوړېدلو هرکلی وکړ. د پښتونستان د مسلې تبلیغ، د ۱۹۴۷ کال په مني کي، یو څه کرار سو که څه هم چې په بشپړه توګه خو بند نه سو. د هغه کال په مني کي، د افغانستان حکومت نجیب الله خان، د یوه سلسه موضوعاتو د حلولو لپاره، پاکستان ته واستاوه. که څه هم چې هغه په پاکستان کي دوستانه خبري وکړې خو، د روغي جوړي په برخه کي یې، چنداني نتیجه ترلاسه نه کړه. کله چې نجیب الله خان کابل ته ورسېدی نو یوه وینا یې وکړه او له پاکستان څخه یې وغوښتل چې قبایلي سیمي منحل کړي او هلته یو آزاد ایالت جوړ کړي. او که افغانستان ته په بلوچستان کي، د آزادو وارداتو لپاره، یوه لاره نه ورکوي نو په کراچۍ کي دې افغانستان ته د غه ډول یو بندر ورکړي. له دې سره عملاً تجارتي جنګ پیل سو. افغانستان په ملګرو ملتونو کي د پاکستان د شاملېدلو پر ضد رایه ورکړه خو وروسته یې خپله منفي رایه بیرته واخیستله او په ۱۹۴۸ کال کي یې پاکستان په رسمیت وپېژاند؛ او ولي خان یې کراچۍ ته د سفیر په حیث واستاوه.

د پاکستان د سرحدونو وزارت د ۱۹۴۹ کال په سر کي د پښتونستان د مسلې پر تحریکوونکو باندي حمله وکړه او، د سرحد، څه باندي ۳۵۰ مشران یې ونیول. غفارخان، چې پاکستان یې د برتانیې ګوډاګی او یو غیر اسلامي هیواد بللی وو، د خپل زوی ولیخان سره بندي سو او دواړه پنځه کاله، په بلوچستان کي، بندیان ول. خو د غفار خان له بندي کېدلو سره د پښتونستان د غوښتني مفکورې نور هم زور واخیست او د نورو ناکراریو سبب سو.

د غفارخان په بندي کېدلو سره، افغانستان خپل سفیر ور وغوښت او د آزاد پښتونستان د داعیې په باره کي د تبلیغاتو د کرارولو پر سر مذاکرات بند سول. د جولای په میاشت کي یوې لویې جرګې د ډیورینډ د کرښي موافقتنامه رد کړه او له برتانیې سره یې ټول تړونونه فسخ اعلان کړل. یوه میاشت وروسته یوې قبایلي جرګې د « تیراه باغ » په نوم پرېکړه منظوره کړه او د خپلواک پښتونستان اعلان یې وکړ چې فقیر ایپي به یې جمهور رئیس وي. د ۱۹۵۰ په لسیزه کي سرحدي نښتي ورځ تر بلې زیاتي سوې او پاکستان یې دې ته وهڅاوه چې له افغانستان سره خپل سرحدونه عملاً بند کړي.

د سرحدونو له بندېدلو سره د هیلمند د پروژې کار په ټپه ودرېدی او امریکا د منځګړتوب پېشنهاد وکړ. د ۱۹۵۰ کال د نومبر په میاشت کي، په افغانستان کي د متحده ایالاتو سفیر، ایلي پالمر د پاکستان او افغانستان د مقاماتو ترمنځ د خبرو وړاندیز وکړ. پالمر د دغي غونډې لپاره پر څلورو عمومي موضوعاتو باندي د بحث کولو پېشنهاد وکړ؛ او زیاته یې کړه چې د دواړو هیوادونو مقامات به یوازې په دغه چوکاټ کي خبري سره کوي او نور موضوعات به نه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

طرح کوي. افغانستان سمدستي دا پیشنهاد منظور کړ مګر پاکستان، له پنځو میاشتو ځنډ څخه وروسته، امریکا ته کوربټ منفي جواب ورکړ. په دې موضوع کې يې د امریکا مداخله نامناسبه وګڼله او سخت نارضاییت يې څرګند کړ. پاکستان وویل چې په دغه موضوع کې هر ډول مذاکرات افغانستان نور هم تشویقوي او له امریکا څخه يې وغوښتل چې د ډیورنډ کرښه، د برتانیې په څېر، د یوه بین المللي سرحد په حیث په رسمیت وپېژني.
د پاکستان له خوا د دې خبرو له ردېدلو سره، افغانستان یو ځل بیا خپل سفیر له هغه هیواد څخه را وغوښت. سره له هغه چې له پاکستان سره د دښمنۍ او مخالفت دوام افغانستان ته ډېر زیات اقتصادي تاوان درلود؛ مګر د افغانستان حکومت دا وېره درلوده چې که د پښتونستان له مسلې څخه تېر سي نو دا به ډېره د شرم خبره وي او ویل يې چې تر څو پوري پاکستان د پالمر د نومبر د میاشتي پیشنهاد نه وي منلی له پاکستان سره به ډیپلوماتیک اړیکي ټینګ نه کړي. د افغانستان حکومت استدلال کاوه چې د امریکا فشار به پاکستان دې ته مجبور کړي چې له داسي یوه حل سره موافقه وکړي چې د دواړو خواوو پرده پکښي وسي.
د پالمر له تقاعد کېدلو څخه وروسته، شارژدافېر جان ایوارټس هارنر د افغانستان خارجه وزیر محمدعلي ته اطلاع ورکړه چې متحده ایالاتو د نومبر پلان منسوخ کړی دی. هارنر د پښتونستان په مسله کي د افغانستان دریځ مسخره کړ او وې ویل چې دا موضوع نه اقتصادي او نه سیاسي اساس لري او نه په قومي مسله کي د افغانستان دریځ دلیل کېدلای سي او که د قومونو د وېش موضوع مهمه وبولو نو بیا خو به شوروي اتحاد هم د افغانستان په شمال دعوه وکړي. خو هارنر بیا هم فکر کاوه چې متحده ایالات اوس هم باید د دغي موضوع د حلولو په برخه کي کوښښ وکړي. ده فکر کاوه چې د افغانستان حکومت په ریښتیا هم د دغي مسلې حل غواړي او که د پښتونستان موضوع بیخي له نظره وغورځوله سي نو دا وېره سته چې شوروي اتحاد به د ناراضو عناصرو څخه په خپله ګټه استفاده وکړي. ده ویل چې یوه داسي لاره چې د دواړو خواوو پرده پکښې خوندي کېدلای سي هغه دا ده چې پاکستان دي د قبایلو سیمي ته دوامداره کلتوري خودمختاري ورکړي. ده پیشنهاد وکړ چې د قبایلو د ښېګڼي لپاره دي یو مشترک کمېسیون جوړ سي او وې ویل چې د امریکا مالي مرستي به د دواړو هیوادونو د علاقې ښکاره کولو سبب سي.
په خارجه وزارت کي د جنوبي اسیا د چارو څانګي هم د افغانستان دریځ نامعقول وباله مګر وې ویل چې مذاکرات باید له سره پیل سي. امریکا نه غوښتل چې په دې مسله کي نور ځان بند کړي او دا وېره ورسره وه چې پر پاکستان باندي په دې موضوع کي نور فشار اچول مناسب کار نه دی. امریکا پر افغانستان باندي پرله پسې فشار اچاوه چې، د ښه نیت د څرګندولو د ثبوت لپاره، له پاکستان سره ډیپلوماتیک اړیکي بیرته ټینګ کړي؛ او داسي يې فهموله چې افغانستان باید د پښتونستان له مسلې څخه په بشپړه توګه تېر سي.
افغانستان له پاکستان سره د دوه اړخیزو خبرو د پیل کولو کوښښ وکړ مګر پاکستان له خپل دریځ څخه نه تېرېدی. یوه خبره چې ښایي یو څه سمون يې رامنځته کړی وای هغه دا وه چې د افغانستان پخواني صدراعظم هاشم خان د پاکستان دا بلنه ومنله چې د خبرو لپاره په کراچې کي تم سي. خو کله چې دی پاکستان ته ورسېدی نو هیڅ دولتي مقام له هغه سره ونه کتل. د پاکستان خارجه وزیر په ملګرو ملتونو کي وو، صدراعظم په لندن کي وو او ګورنر جنرال لاهور ته تللی وو. که څه هم چې ځینو امریکائي مقاماتو د پاکستان پر دغه عمل باندي انتقاد وکړ مګر اکثرو يې، په افغانستان کي د متحده ایالاتو د نوي سفیر، انګوس وارډ دا خبره تائیدوله چې افغانستان د پاکستان سره د اختلاف په حلولو کي صادق نه دی او په دې موضوع کي د امریکا مداخله چنداني ګټه نه لري.
ځینو امریکایي مقاماتو کوښښ وکړ چې دې مسلې ته بیخي بل رنګ ورکړي او پاکستان تعرضي دریځ نیولو ته تشویق کړي. په خارجه وزارت کي د جنوبي اسیا د څانګي مسوول ډانلډ کینیډي په ملګرو ملتونو کي د پاکستان سفیرته وویل چې د هغه حکومت دي داسي مسوده ترتیب کړي چې پاکستان له افغانستان سره د سرحد پر دواړو غاړو باندي د پښتنو د خیر ښېګڼي په برخه کي، د ډیپلوماتیکو چینلونو له لاري، له خبرو سره موافقه لري. هینري بایروډ نورو پاکستاني مقاماتو ته، دغه ته ورته، مفکوره ور انتقال کړه. پاکستان سمدستي دغه مفکوره عملي نه کړه مګر په ۱۹۵۳ کال کي يې دغه ته ورته متن خپور کړ. د تعجب خبره خو دا ده چې، د خارجه وزارت د انتظار په خلاف، کله چې افغانستان د پاکستان دا پیشنهاد ومانه او وې ویل چې سمه ده د سرحد پر دواړو غاړو باندي دي عمومي رایه ګیري وسي؛ خارجه وزارت، چې اوس يې هم د افغانستان پر متضاد دریځ باندي انتقاد کاوه، وارخطا سو چې هسي نه د دې پیشنهاد عملي کېدل پاکستان ته تاوان ونه کړي.
د ۱۹۵۲ کال د آګسټ په میاشت کي په کابل کي د شوروي اتحاد شارژدافیر د افغانستان په شمال کي د ملګرو ملتونو تر نظارت لاندي د فرانسوي شرکتونو د تېلو د ایستلو لپاره د کیندنو په ارتباط د افغانستان حکومت ته یو اعتراض وسپاره. په دې اعتراض کي راغلي وه چې د افغانستان په شمال کي د شوروي اتحاد پر پوله باندي د شمالي اتلانتیک د یرغلګر تړون له خوا د تېلو د پلټنو او را ایستلو عملیات د شوروي اتحاد امنیت ته خطر پېښوي او ښایی د شوروي اتحاد او افغانستان ترمنځ د ښه ګاونډیتوب اړیکو ته تاوان ورسوي.
دې اعتراض افغانستان ته یوه معما پیښه کړه. د افغانستان شمال د تېلو د لویو ذخیرو مرکز وو او که يې دا ذخیرې د شوروي اتحاد په اختیار کي ورکړي نو په لوی لاس به خپل هیواد په اقتصادي محاصره کي را ګیر کړي او سیاسي خطرونه به ورته متوجه سي. حتی په هند کي د افغانستان سفیر نجیب الله خان، چې تر دغه وخته په افغانستان کي د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پښتونستان د مسلې تر ټولو ټینګ مدافع وو، په دې فکر کې سو چې د امریکا په مرسته له پاکستان سره خبري کول ګټور کار دی. په هند کې د امریکا د سفیر چیسټر باول په شمول ځینو امریکایانو هم دا فکر وکړ چې د شوروي دغه وروستی عمل ښایی دا فرصت برابر کړي چې افغانستان له پاکستان سره یوې جوړې ته حاضر سي. هارنر هم ومنله چې که یوه داسي روغه جوړه وسي چې د دواړو خواوو پرده پګښی خوندي سي او له پاکستان سره اخلاقي او پوځي مرسته هم ورسره ملګرې وي نو دا به ښه نتیجه ورکړي او افغانستان به له دې څخه را وګرځي چې ټول شمال شوروي ته تسلیم کړي. ده ویل چې که امریکا پر پاکستان باندي مثبت فشار وارد کړي نو ښایي د منلو وړ حل رامنځته سي.

خارجه وزیر ډین اچیسن، له برټانوي مقاماتو سره تر سلا مشورو ورسته، دې نتیجې ته ورسېدی چې که تاریخي سوابقو ته یو نظر واچول سي نو د شوروي اتحاد وروستی اعتراض کومه نوې سیاسي ستونزه نه پېښوي او افغانستان ته هم کوم سمدستي خطر نه متوجه کوي. ده وویل چې افغانان له دې اعتراض څخه د زیاتو اقتصادي او پوځي مرستو د ترلاسه کولو لپاره استفاده کوي او غواړي چې د پښتو نستان د مسلې په حلولو کي لوېدیځه نړۍ پر پاکستان باندي فشار واچوي. ده وویل دا چې افغانستان نه غواړي کراچې ته سفیر ولیږي پخپله د دې معنی لري چې هغه هیواد په خپل قول کي صادق نه دی. ده پېشنهاد وکړ چې افغانانو د شوروي اتحاد له اعتراض څخه په وېره کي مبالغه کړې ده او ملګري ملتونه باید خپل د تیلو پلټنو عملیاتو ته دوام ورکړي.

هارنر د خارجه وزیر اچیسن دا عقیده رد کړه چې ویل یې افغانستان غواړي د شوروي اتحاد له اعتراض څخه ګټه واخلي. ده وویل چې افغانستان، د امریکا سفارت ته د خبر ورکولو څخه مخکي، د وخته لا شوروي اتحاد ته منفي جواب ورکړی دی او تر اوسه پوري یې یوازي د اقتصادي او اخلاقي مرستو غوښتنه کړې ده. ده د خارجه وزارت نظر په کلکه رد کړ او وې ویل چې دا پر افغانستان باندي د شوروي اتحاد فشار بې اندازې بې اهمیته ښیي او په بشپړه توګه سیمه ایزو مسایلو ته په بې اهمیته نظر ګوري. هارنر ویل چې که د اچیسن دغه منفي پیغام خپور سي نو دا به زموږ څخه د امریکا طرفداران خواشیني کړي او د هغو کسانو دریځ به قوي کړي چې د شوروي لپاره کار کوي او افغانان به په دې عقیده کړي چې موږ په سیمه کي د شوروي اتحاد د پرمختګ د مخنیوي په لاره کي افغانستان ته هیڅ اهمیت نه ورکوو او دا نظر به په دغه سیمه کي د متحده ایالاتو د پالیسی اهدافو ته سخت زیان ورسوي.

په واشنګټن کي د خارجه وزارت مقامات تر پایه پر خپله دې خبره ولاړ وه چې افغانستان د شوروي اتحاد د اعتراض د موضوع څخه په خپله ګټه استفاده کوي؛ او په خپله پالیسي کي یې هیڅ تغییر را نه ووست. دوی وویل چې له افغنستان سره باید زیاتي مرستي ونه سي او وې ویل چې په موجودو شرایطو کي لا مرستي ممکني هم نه دي. د شوروي اتحاد د اعتراض څخه وروسته د افغانستان په برخه کي د امریکا په پالیسي کي هیڅ تغییر رانه غی. د افغانستان حکومت مجبور سو چې په شمال کي د تېلو د را ایستلو ټول عملیات بند کړي او د ناټو غړي هیوادونه د هغي سیمي ولایتونو ته له ور تللو څخه منع کړي. د تېلو د را ایستلو کار تر ۱۹۵۷ کال پوري بند وو تر څو چې داوود خان شوروي اتحاد ته د تېلو را ایستلو او استفادې کولو حقوق ورکړل.

د ټرومن حکومت د افغانستان حکومت ته د پوځي مرستو ورکولو په برخه کي هم علاقه ونه ښودله. د افغانستان مقاماتو ان په ۱۹۴۲ کال کي له امریکا څخه د پوځي مرستو غوښتنه وکړه. دا هغه وخت ووچې جاپان د هند د نیولو په درشل وو او متحده ایالاتو باید افغانستان ته د ځان او سیمي څخه د دفاع لپاره پوځي مرستي ورکړي وای. ټرومن ادعا وکړه چې افغانستان به امریکا ته هر هغه امتیاز چې غوښتنه یې ورڅخه وکړي ورکړي. ده زیاته کړه چې که افغانستان له جنګ څخه وروسته وسلې په لاس کي ونه لري نو د روسیې تر تهدید به لاندي وي ځکه چې د هند حکومت به د دې توان ونه لري چې د روسیې د هغو پلانونو مخه ونیسي چې غواړي افغانستان اشغال کړي.

په همدغه کال، د ستراتیژیکو خدماتو د سروې یوه هیات د افغانستان په باره کي یو رپوټ بشپړ کړ. په داسي حال کي چې دغه هیات وویل چې افغانستان لوېدیځ بلاک ته ښه نظر لري او دا یې ومنله چې د هغه هیواد خلک د ګیریلایی جنګونو طاقت او مهارت لري خو دا یې ورسره زیاته کړه چې افغانان د یوه با انضباطه پوځ لپاره جوړ نه دي. افغانستان دغه راز چنداني ستراتیژیک منابع نه درلودل چې امریکا ته یې ورکړي. په افغانستان کي نه د اورګاډي خطونه وه او نه پاخه سړکونه وه او هوایي ډګرونه یې تر پاکو سویو میدانونو چنداني بهتر نه وه. لویې فابریکي یې نه درلودلې، ماهر کارګران یې نه لرل او نه یې داسي مینرالونه درلودل چې زیات اهمیت دي ولري. د سروې هیات په نتیجه کي ویلي وه چې د افغانستان حکومت، د نولسمي پېړۍ په څېر، غیر موثر دی. خلک یې زیاتره د سترګو د تراخُم ساري ناروغي لري، د کولمو په ناروغیو اخته وي او ډېري نوري ناروغی لري. او د پایتخت په لارو کوڅو کي یې چټلي اوبه بهیږي.

متحده ایالاتو، د برټانیې له مقاماتو سر تر سلا مشورو وروسته، افغانستان ته د وسلو او پوځي مهماتو له ورکولو څخه ډډه وکړه او وروسته یې د افغانستان د مرستو نوري غوښتني هم رد کړې. که څه هم چې د امریکا هیات ویلي وه چې امریکا او انګلستان باید په ګډه د افغانستان د خپلواکی ملاتړ وکړي او په افغانستان کي د امریکا پوځي آتشه وویل چې له جنګ څخه وروسته باید د افغانستان پوځي اړتیاوو ته توجه وسي خو څرنګه چې افغانستان ظاهراً



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ستراتيژيک اهميت نه درلود نو امريکا دا پېشنهادونه رد کړل. دغه ته مشابه نظرياتو، د ۱۹۵۰ په ټوله لسيزه کي، د متحده ايالاتو او افغانستان ترمنځ د نيژدې اړيکو د ټينګېدلو مخه ونيوله.
زابلي واشنګټن ته د يوه سفر په ترڅ کي د سياسي، اقتصادي، کلتوري، تربيوي، تخنيکي او پوځي مرستو غوښتنه وکړه. زابلي له امريکا څخه وغوښتل چې افغانستان د خپل داخلي امنيت د ساتلو لپاره د متحده ايالاتو عاجلو مرستو ته اړتيا لري. او دا يې وويل چې د شوروي اتحاد سره د جنګ په صورت کي بايد همکاري ورسره وسي. ده ژمنه وکړه چې په هندوکش کي به د شوروي قواوي ټال کړي او په دې توګه به په هند او پاکستان کي د لوېديځو هيوادونو سره مرسته وکړي. زابلي وويل چې د دغو کارونو لپاره، افغانستان په هغه اندازه مرستو ته چې امريکا په نړۍ کي له نورو هيوادونو سره کړي دي ضرورت نه لري. زابلي وويل چې د افغانستان ضرورتونه ذره بيني دي او کله چې جنګ پيل سي نو په دې کي شک نسته چې شورويان به يې اشغال کړي مګر روسان به دا هيواد کرار نه کړای سي. افغانستان کولای سي چې تر نامعلومي مودې پوري ګيريلايي مقاومت وکړي او وبه يې هم کړي. زابلي دې خبري ته اشاره وکړه چې د ايران، ترکيې، افغانستان او پاکستان ترمنځ يو سيمه ايز پکټ يو معقول امکان دی. زابلي وويل چې که متحده ايالات پر دغه قوس باندي پيسې ولګوي نو لګښتونه به يې د اسلامي نړۍ تر هغه پکټ ډېر لږ وي چې متحده ايالات به يې د شوري اتحاد د يرغل په مقابل کي منځته راوړي. امريکا د زابلي سره د هيڅ ډول مرستي وعده ونه کړه.
د ټرومن په حکومت کي ځينو مقاماتو د افغانستان ستراتيژيک اهميت ته اشاره کوله او د شوروي له حملې څخه د ساتلو لپاره يې پېشنهادونه وړاندي کول. په کابل کي د امريکا د سفارت مامورينو توصيه کوله چې پر افغانستان باندي بايد وسلې وپلورل سي او په دې توګه د شوروي اتحاد د نفوذ مخه ونيوله سي، د افغانستان او امريکا ترمنځ دوستي ټينګه سي، د افغانستان د داخلي امنيت په ټينګولو کي مرسته وسي او له پاکستان سره د هغه هيواد د اختلافاتو په حلولو کي کومک ورسره وسي. په سفارت کي د امريکا پوځي آتشه دغه ته ورته نظر درلود. که څه هم چې ده ويل د افغانستان پوځ په هيڅ توګه مجهز نه دی، عسکر يې بېسواده دي خو ده ويل چې امريکا بايد کوښښ وکړي چې له دغه پوځ څخه يوه زوروره ګيريلايي قوه جوړه کړي. دې پوځ ته صحرايي ټلفونونه، بازوکا، هاوانونه، جيپ موټرونه او دغه راز وسايل چې په کوريا او اروپا کي نه په کارېږي ورکړي. ده وويل چې که له افغانستان سره دغه ډول مرستي وسي او اقتصادي کومکونه هم ورسره ملګري وي نو کېدای سي چې په نتيجه کي به افغانستان د پښتونستان تبليغات هم بند کړي. که څه هم چې د پوځي آتشه لينکبېټر دا پېشنهاد بې نتيجې پاته سو خو ده ويل چې افغانستان ته بايد موټرونه، يو څه انجنيري وسايل او د امکان په صورت کي الوتکي ورکړه سي.
خو اکثر امريکائی مقامات له افغانستان سره د زياتو پوځي مرستو مخالف ول. خارجه وزارت ويل چې افغانستان په سياسي لحاظ بې ثباته دی، په پوځي لحاظ کمزوری دی، د اقتصادي پر مختګ امکانات نه لري او چنداني بين المللي اهميت هم نه لري. د ملي امنيت شورا ويل چې اوس حاضر خو امريکا د لوېديځي اروپا د دفاعي چارو په غښتلي کولو لګيا ده نو له افغانستان سره پوځي مرستی چنداني ضروري نه دي. دوی ويل چې پر افغانستان باندي د شوروي اتحاد يرغل چنداني احتمال نه لري او دليل يې دا وو چې افغانستان دومره لږ منابع لري چې په حمله نه ارزي. د ملي امنيت شورا دا هم ويله چې که افغانستان هر څونه مقاومت وکړي خو که شوروي وغواړي هغه هيواد اشغالولای سي. له يوې خوا متحده ايالاتو په نورو سيمو کي عاجل دفاعي ضرورتونه درلودل او له بلي خوا د پښتو نستان په موضوع کي د افغانستان دريځ د دې سبب سو چې امريکا نه د وسلو او نه د پوځي وسايلو په برخه کي هغه هيواد ته جدي توجه وکړي.
په دې توګه نو سره له هغه چې په ۱۹۵۱ کال کي، افغانستان ته د وسلو ورکول منظور سول خو دې موافقې دونه شرايط درلودل چې عملي کېدل يې غير عملي وه. متحده ايالاتو له افغانستان څخه غوښتل چې د ټولو وسايلو پيسې نغدي تاديه کړي؛ دا ځکه د افغانستان لپاره ممکنه نه وه چې ټولي پيسې يې د هيلمند په پروژه کي بندي وې. متحده ايالاتو پر دې برسېره له افغانستان څخه غوښتل چې دا وسايل به د پاکستان له لاري انتقالوي. که افغانستان د امريکا د پوځي وسايلو پيسې نغدي تاديه کړي وای بيا هم دا ستونزه وه چې پاکستان به دې وسلو او وسايلو ته، په خپله خاوره کي، د تېرېدلو اجازه نه وای ورکړې؛ ځکه چې له هغه هيواد سره دا وېره وه چې هسې نه دا وسلې د قبايلو لاسته ولوېږي. امريکا د پوځي وسايلو د استعمال لپاره د عسکرو روزنه هم نه منله او پر دې ټولو خبرو برسېره يې يو توهينونکی ټلګرام هم افغانستان ته استولی وو او ورته ليکلي يې وه چې د پښتو نستان په موضوع کی د هغه هيواد دريځ پر سم درک ولاړ نه دی او ټوله سيمه بې ثباته کوي. د افغانستان مشرانو د امريکا د پوځي وسايلو د خرڅولو دغه پېشنهاد په سياسي لحاظ د رد جواب وباله. امريکا وروسته د افغانستان د مرستو غوښتلو او لږترلږه په يو څه سپک سود د پور غوښتلو پېشنهادونه رد کړل او ويل يې چې پر افغانستان باندي ځکه وسلې نه سي پلورلای چې نور نړۍ وال تعهدات اجازه نه ورکوي او خاص مجبوريتونه او مسووليتونه لري او دغه راز بايد د کانګريس اجازه هم ترلاسه سي.
د افغانستان حکومت دا منله چې پر خاوره باندي يې د شوروي د حملې احتمال کم دی او دا يې منله چې د شوروي د يرغل په صورت کي د مقاومت کولو توان هم نه لري مګر ويل يې چې دونه وسلې خو بايد ولري چې د شوروي په



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لمسون راپورته سوي ښورښونه کرار کړي. افغانستان بيا هم د وسلو د مرستو غوښتني ته دوام ورکړ او کله چې د منځني ختيځ د دفاعي تنظيم (ميډو MEDO) خبره راپورته سوه نو د افغانستان مقاماتو او مطبوعاتو په هغه کې د شامليدلوسره علاقه وښودله. کله شوروي اتحاد دغه پيشنهاد سوی پروګرام محکوم کړ نو د افغانستان د خارجه وزيرمرستيال محمد عزيز په جواب کي وليکل چې ميډو يو دفاعي سازمان دی او افغانستان له شوروي اتحاد سره د ۱۹۳۱ کال د هغه تړون په اساس چې د تيري نه کولو په برخه کي يې ورسره لاسليک کړی دی په دغه تړون کي د غړيتوب څخه نه سي را ګرځول کيدلای. کله چې افغانستان دا پيشنهاد وکړ نو هارنر سمدستي، په کابل کي، د برتانيې سفيرډبليو بي جې ليډويج ته وويل چې افغانستان غواړي په دې هيله د دې تړون غړی سي چې وايی که چيري د شمال له خوا يرغل ورباندي کيدی نو امريکا او انګلستان يې بايد د دفاع کولو ذمه ووهي. څرنګه چې هارنر پاکستان ته د ميډو د يوه ارزښتمن غړي په سترګه کتل نو افغانستان يې، د شوروي اتحاد د تهديد په نظر کي نيولو سره، هسي د اوږو بار وباله. ليډويج هم ورسره ومنله چې د منځني ختيځ د دفاعي موسسې د جوړيدلو په صورت کي به دا بهتره وي چې افغانستان د يوې بيطرفي جزيرې په حيث وساتو، نه زموږ د يوه ملګري په حيث. دی په دې عقيده وو  چې د شوروي اتحاد فشار به افغانستان پر ميدان يوازي پريږدي او که داسي ونه سي نو افغانستان بيا هم نه سي کولای چې د سرحدي اختلاف له حلولو پرته د دې موسسې غړی سي. مګر په داسي حال کي چې د امريکا لپاره، په ميډو کي د افغانستان شاملولو ته هيڅ منطقي اساس موجود نه وو، ليډ ويج بيا هم افغانستان ته په يو څه اهميت قايل وو. ده دا عقيده ردوله چې افغانستان يې تر بې ارزښته لا بدتر باله او ويل يې چې افغانان که دښمنان سي بيا نو ډير قوي دښمنان دي. ده وويل چې دا موږ ته په تجربو ثابته سوې ده. دی په دې عقيده وو چې د افغانستان پوځ او قبايل له دوو څخه تر شپږو فرقو عسکرو پوري په ګيريلايي جنګ کي مصروفولای سي. د اکمالاتو پر کرښو باندي حملې کوي او په خپله خاوره کي د شوروي د اډو له جوړيدلو سره مقاومت کولای سي. مګر ليډويج دا ويله چې افغانستان بايد له نظره ونه غورځول سي خو د هغه هيواد اعتراضونه دونه مهم نه دي چې موږ په ميډو کي د پاکستان په څير يوه مهم هيواد له شاملولو څخه را وګرځوي. وارډ هم دا استدلال کاوه چې د افغانستان اندېښني بايد رد وبلل سي او که موږ پاکستان په ميډو کي شامل کړو نو د امريکا د پاليسی لپاره دا يو مهم ګام دی. وارډ ويل چې پاکستان به نه يوازي يو ارزښتمن ملګری وي بلکه افغانان به د پښتونستان د مسلې پريښودلو ته مجبور کړه سي.

د ټرومن حکومت په داسي وخت کي ختم سو چې د هيلمند پروژه د بربادی خواته روانه وه. که څه هم چې د دې پروژې ناکامي به يوازي د امريکا غلطي نه وه خو د دې پروژې پرله پسې ستونزو د دواړو هيوادونو ترمنځ پر اړيکو باندي بده اغيزه کوله. د ټرومن حکومت د پښتونستان د مسلې د حلولو په برخه کي چنداني څه ونه کړه. بالاخره د امريکا مشرانو د افغانستان له پوځي چارو او په غير مستقيمه توګه د افغانستان له ستراتيژيک اهميت سره بې علاقه ګي وښودله. له افغانستان سره مرستي د هغه هيواد داخلي امنيتي وضع بهترولای سوای او د دواړو هيوادونو تر منځ اړيکو ته يې ګټه رسوله مګر څرنګه چې افغانسنان ته د يوه بې ارزښته او بې اهميته هيواد په سترګه وکتل سوه نو دې نظر له هغه هيواد سره د همکاری مخه ونيوله. کله چې د آيزنهاور حکومت راغی نو افغانانو وليدل چې د دوی هيواد ته يې په هماغه بې اهميته سترګه وکتل او په عوض کي يې له پاکستان سره مرستي څو چنده کړې.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ